
د اجمل خټک سیاسي هلې ځلې



لیلکوال
علي خان محسود

د پښتون سوشل (سوسیال) دیموکراتیک ګوند سره د ډاکټر نجیب الله رابطه

ډاکټر نجیب زما لپاره او زه د هغه لپاره نا اشنا نه وو. د ثور د بدبختۍ نه ډېر وړاندې د زده کړې پر مهال موږ له یو بل سره پېژندل. څه وخت، چې د ۱۹۷۸م کال د اپرېل په میاشت کې داودخان شهید شو او خلقیان او پرچمیان د اقتدار په ګدۍ کېناستل؛ نو د واک له اخیستلو سره سم دوی ګوندي وزلوبه بیا پیل کړه. پرچمیان، خلقیانو ته غله وو، او خلقیان پرچمیانو ته. یا په سمه توګه ددې وزلوبې وتلې لوبغاړي دوه کسان وو، چې هغه یو د پغمان حفیظ الله امین خروټی او بل د کابل ببرک کارمل و؛ نو د څو میاشتو نه وروسته خلقیانو، پرچمیان له واک څخه لرې کړل او په بهر نړۍ کې یې سفیران کړل، چې په هغوی کې ببرک کارمل په پراګ چکسوالواکیه کې، راتب زاد اناهیتا په بلغراد یوګوسلاویه کې او ډاکټر نجیب الله په تهران ایران کې. د څه وخت نه وروسته خلقي حکومت په دوی تور ولګاوه، چې دوی د سفارت خانې نه پیسې پټې کړې دي؛ نو ددې په وجه د سفارتخانو څخه هم وشړل شول. بیا نجیب موږ ته مغربي جرمني ته راغی دلته به کله زما سره او کله به هم له ډاکټر شفیع سره و، او کله به هم د ببرک کارمل

لپاره پراګ ته ورته. اناهیتا راتب زاد، عبدالوکیل، بریالی او نجیب دا ټول په مغربي اروپا او په خاصه توګه په مغربي جرمني کې د پرچمیانو او ایراني توده یانو سره اوسېدل؛ خو ډاکټر صاحب به ډېر د ډاکټر شفیع سره د مغربي جرمني په بریمن Breman ښار کې و، دده سره یې مېرمن هم وه. وروسته، چې کله دوی کابل ونیولو بیا ډاکټر شفیع د هغه وخت مطابق یې په مشرقي جرمني کې د افغانستان لوی سفیر مقرر کړ. زما او ډاکټر صاحب نظریې معلومې وې؛ نو د یو بل د غولولو کوښښ مو نه کاوه؛ مګر د پښتو او پښتونولۍ اړیکې مو سره ساتلې. څه وخت، چې د خُميني د انقلاب او بیا ایران ته د تګ اوازې ګرمې شوې؛ نو ماته ډاکټر صاحب د ۱۹۷۹م کال د جنورۍ د میاشت په ۳ یمه نېټه د جرمني په هانور کې ډېر په خوشالۍ سره وویل، چې اوس به یې امین په خوند پوه شي، چې لاندې ورته ضیاءالحق دی او بل څنګ ته ورته خُميني شي. د ۱۹۷۹م کال د جنورۍ د میاشتې د ۳یمې نېټې نه وروسته ډاکټر ورک شو. دا زموږ اخري لیدنه کتنه وه. وروسته د ۱۹۷۹م کال د دسمبر د میاشتې په ۲۷مه نېټه زه نه؛ بلکې نړۍ خبره شوه، چې ببرک کارمل سره کابل ته تللی دی. او وروسته لومړی دخاد دپټو پولیسسو مشر اوبیا د ۱۹۸۶م کال دمۍ په میاشت کې یې صدر شو.

دلته په جرمني کې ډېر پرچمیان او خلقیان وو، چې

دوی ټول زده کوونکي وو او په ډېر لږ شمېر کې داسې افغانان هم وو، چې دوی د سبق په پلمه جرمني ته راغلي وو. چا کارونه کول او ځینو تجارت کولو؛ نو په دې سلسله کې ما په ۱۹۷۶م کال د قندهار دوه ورونه وپېژندل، چې د یوه نوم عبدالله او د هغه بل نوم داود شهباز و. عبدالله مشر او شهباز کشر و. شهباز پرچمي و او عبدالله زمور ملګری و، او لېونی نشنلست و. او تر نن ورځې پورې زمور ملګری دی. بیا وروسته د ببرک په وخت کې داود شهباز د جرمني په بون کې د افغانستان په سفارت خانه کې څه افسر شو؛ خو عبدالله به ورته د ببرک او روسانو سپی وایه. د دوی سخته سره ورانه وه. د داود شهباز استاد او لارښود په افغانستان کې سلېمان لایق و. تر څو پورې، چې ببرک کارمل و زمور د سفارت خانې سره هېڅ رابطه نه وه د روسانو او ببرکیانو خلاف به مو له جرمنیانو سره ګډ جلوسونه او سیمینارونه کول، چې دا کار په پرچمیانو او روسانو باندې بد اغېز کاوه؛ نو پرچمیانو او روسانو په کابل کې په اجمل صاحب باندې زور راوړی و، چې مور سم کړي. اجمل صاحب او صوفي جمعه خان ډېر لیکونه راولېږل، چې د انقلاب نوی دور داسې او داسې دی؛ مګر زمور ځواب یو و هغه دا، چې تر څو پورې روسي پوځونه په افغانستان کې وي زمور نه طمع لنډه کړئ. اجمل صاحب ډېر داسې د درکې لیکونه راولېږل؛ مګر څه اثر یې ونه کړ. وروسته دی هم

ستړی شو او کېدای شي، چې پرچمیانو او روسانو ته یې ویلي وي، چې زه نور څه نه شم کولی؛ مګر څه وخت، چې ډاکټر صاحب راغلی او ورسره یې د ملي روغې جوړې ګنګوسې خورې کړلې؛ نو د جرمني د بون سفارتخانې ته هدایت شوی و، چې زموږ سره رابطه جوړه کړي؛ نو یو مانبام داود شهباز زما کور ته تلیفون وکړ، چې زه درځم یو ضروري پیغام دی دا د ۱۹۷۹م کال د دسمبر نه تر ۱۹۸۶م کال پورې اول ځل و، چې ما شهباز ولیده. پیغام څه و، چې ډاکټر صاحب ورته ویلي وو، چې علي خان ته ورشه او ورته ووایه، چې دوی دې یو ځل هرومرو کابل ته راشي، چې د روسي پوځیانو او زموږ د ګوند د پالیسیو خلاف څه شکایتونه لري زموږ سره دې مخامخ بحث پرې وکړي. موږ خپل ګوندي ملګري خبر کړل، چې دغسې چل دی ماته عبدالله په غوسه و، چې دا د روسانو سپی ما په کور بند کړی و، تا ولې خپل کور پرې مردار کړ. زموږ ملګري دوه ډلې شول ځینو ویل، چې خبرو ته ضرورت نشته او ځینو ویل، چې سیاست کوو او په سیاست کې به خبرې هرومرو کوو. اخر په دې پرېکړه وشوه، چې اوله لیدنه به پټه وي. موږ شهباز خبر کړ، چې خپل حکومت خبر کړه، چې اوله لیدنه او کتنه به پټه وي، د رادیو او تلویزیون څخه به نه نشر کېږي. او نه به په اخبارونو کې لیکل کېږي د څه وخت نه وروسته شهباز خبر راکړ، چې حکومت دا شرط ومانه.

مورې بیا غونډه راوغوښتله، هلکانو ګرم ګرم بحثونه پرې وکړل. پربکړه په دې وشوه، چې یوازې دوه کسان به ځي. یو به د کوزې پښتونخوا څخه وي او بل به د بړې پښتونخوا څخه وي. د کوزې پښتونخوا نه زما نوم وړاندې شو او د بړې پښتونخوا نه د ډاکټر شېرافضل ګردیوال (د جلال آباد ګردي غوث) نوم وړاندې شو. زه او ډاکټر شېرافضل ګردیوال د شهباز داود په بدرګه پټ د پراګ چیکسوالواکیه نه د ۱۹۸۶م کال د نومبر د میاشتې په اوله نېټه پرواز وکړ. د نومبر د میاشتې له دویمې نېټې څخه تر پینځلسنې نېټې پورې مورې په کابل کې پاتې شو.

څه وخت، چې جهاز د افغانستان حدودو ته ورګډ شو؛ نو زمورې د جهاز بدرګه دوو پوځي جهازونو کوله. ډاکټر شېر افضل ته شهباز په ټوکه کې وویل، چې مورې درسره چل وکړ اوس روسان د ببرك پر ځای تاسو ته واك درکوي؛ نو ځکه مو دومره قدر کوي دا هغه وخت و، چې مجاهدینو نه امریکا سټینګر میزایل ورکړي وو؛ نو اولسي جهازونه ویشتل ورته د ماشومانو لوبه وه. دغو دواړو جهازونو به وخت په وخت د ګرمئ ګولې د روښنایي په څېر ویشتلې ددې لپاره که چېرې څوك په دې اولسي جهاز باندې د سټینګر میزایل ګوزار وکړي؛ نو د میزایل د دهوکه کولو لپاره دا ګولې ویشتلی شوې. پوځیانو ویل، چې د سټینګر میزایل داسې جوړ شوي

دي، چې هغه خلاص کړې د جهاز په ګرمه برخه یعنې انجن باندې پخپله لګېږي، میزایل جهاز نه پېژني په ګرمښت پسې ځي؛ نو ددې ګولۍ حرارت به د جهاز له انجن څخه زیات وو؛ نو میزایل به دهوکه شو په دې ګرمښت پسې به لاړو تر هغو پورې دوی دا ګولۍ ویشتلې تر څو، چې زمونږ جهاز د کابل په هوایي ډګر کوز شو ډاکټر شېرافضل ګردیوال په ۱۹۶۸م کال د رحمان بابا د لېسې نه دولسمم پاس کړی و. د لوړ تعلیم Higher Education لپاره افغان حکومت جرمنۍ ته رالېږلی و. دا دده اول ځل و، چې د ۱۹۶۸م کال نه وروسته کابل وینې. هغه وخت هلکي و اوس پوخ سړی ځنې جوړ و. مونږ دواړو ته شهباز وویل، چې تاسو لږ په الوتکه کې انتظار وکړئ زه بیا راځم، دوی کوز شو، داسې معلومېدله، چې دوی د پټ پرده پوش موټر بندوبس کولو، چې په هوایي ډګر کې مو څوک ونه پېژني د څه وخت نه وروسته موټر الوتکې ته راغې، عبدالمحمد مومند هم ورسره و، دا زمونږ مېلمه پال و مونږ یې پټ په موټر کې سپاره کړو او په شهرنو او که اکبرخان مېنه کې یې له یوې بنګلې سره د موټر نه ښکته کړو دلته زمونږ ستړي مشي ته ډاکټر ضمیر د ګوند د بهرنیو رابطو مشر ولاړ و، چې نه یوازې د رابطو مشر و؛ بلکې د ببرک کارمل د ترور زوی هم و. وروسته مومند صاحب راته وویل، چې دا هغه بنګله ده چېرې، چې د بهتو دوه زامن مرتضی بهتو او شهنواز

بهتو په کې اوسېدل. دوی دواړه د ضیاء الحق څخه کابل ته راتښتېدلي وو. دلته دوی له دوو کابلیو محمدزیانو خوښدو سره اشنایي جوړه کړې وه او ودونه یې ورسره کړي وو. وروسته شهنواز بهتو په فرانسه کې په پټه توګه مړ شوی و. د بهتو د کورنۍ د شهنواز په کابلي ښځه باندې شک و. فرانسوي پولیسو دغه کابلي جینۍ نیولې وه د تحقیقاتو څخه معلومه شوه، چې شهنواز د هیروینو څخه مړ شوی و او بې نظیر بهتو ورځنې سیاسي ګټه پورته کوله او په ضیاء الحق باندې یې دعوی کړې وه؛ نو ددې نه وروسته مرتضی بهتو هم مجبور شو او ښځې ته یې طلاق ورکړ. بیا یې د شام له یوې پېغلې سره واده کړی و. ماته مومند صاحب یوه بله خبره هم وکړه، چې د لنډې کوتل یو ځوان شینواری و او د پیپلز ګارد غړی هم و. د مرتضی او شهنواز سره یې ډېره نږدې رابطه وه بیا وروسته دوی ټول اروپا ته لاړل د لاهور یو پنجابی بدمعاش و، چې نوم یې ټیپو Tippo وو. د ټیپو ددې شینواري هلک سره جنګ شوی و. ټیپو بیا وروسته د اروپا نه یوازې دده په مرګ پسې راغلی و، او دا شنیواری هلک یې په کابل کې وژلی و؛ خو له دې نه مخکې، چې ټیپو اروپا ته سپور شي خادیان پرې خبر شوي وو او په هوایي اډه کې یې نیولی و.

ماته مومند صاحب وویل، چې ډاکټر صاحب دومره په غوسه و، چې ویل یې، چې پنجاب ته ګوره، چې په کابل

کې افغان مړ کوي بیا وروسته خادیانو هغه چارماري کړی و. وروسته ماته خیال اکبر اپریدي وویل، چې دا هلک د سیف الرحمان شینواري کشر ورور و. سیف الرحمان شینواری د قبایلو د اتحاد د لنډي کوتل مشر و. که دا هر څه لیکل پیل کړم بیا به اصلي خبره راڅخه پاتې شي.

ماته ډاکټر شهر افضل وویل، چې کابل ډېر خړ دی، ما ورته وویل، چې په کور کې مړی وشي هغه کور خړ نه وي، دلته؛ خو ۱۵ لکه مړي شوي دي. د خلکو رنګونه خړ پړ وو. هغه که د حکومت افسران وو او که اولسي وګړي. د غم او درد څرګندې نښې ښکارېدلې دا ځکه، چې د حکومتي خلکو خپل خپلوان مړه شوي وو. یو ورور په پېښور کې مجاهد و بل یې خلقي او پرچمي و. زما په خیال، چې افغانستان د خپل تاریخ په اوږدو کې ډېر ویرجن وختونه لیدلي دي؛ مګر د ۱۹۷۸م کال د اپریل د میاشتې تر ۲۷مې نېټې وروسته، چې کوم حالات راغلل ددې نه مخکې هېڅېرې هم دومره اوږد ویرجن وخت نه و راغلی.

زه او شهر افضل د کمونستانو چلونو ته د اول نه بیدار وو. کمونستانو به ماته ویل، چې زموږ د اعتبار سړی ته یې اصلي خبره موږ ستا سره کوو، په شبرافضل باندې زموږ اعتبار نشته کېدای شي، چې دده د افغاني مجاهدینو سره لاره وي او تش معلومات غونډوي او بیا

يې دوی ته ورکوي.

شېر افضل ګردیوال ته به دوی ویل، چې زمونږ اصلي او اعتباري سړی تاسو یئ علي خان؛ خو له خط نه اخوا دی هغه زمونږ په درد نه خوري او په افغانستان کې مونږ ورته د مېلمه په سترګه ګورو او تاسو؛ خو زمونږ سره په هېواد کې شریك اوسئ او افغان یئ؛ نو اصلي خبره به ستاسو سره وي د علي خان قدر؛ خو تش د غولولو لپاره کله ناکله وکړو. ما او شېرافضل به دوی ته غلط او بې کاره معلومات ورکړل. دوی به ژر ژر ولیکل بیا دا خادیان ورك شول مانښام به بیا را پیدا شول د دوی خیال و، چې دوی مونږ دواړه غولوي او یو د بل خلاف مو استعمالوي، چې دوی به د شپې لاړل ما او شېرافضل به یو بل ته معلومات ورکړل د دوی په دې Primitive چلونو باندې به مو د زړه له خلاصه وخندل دوی ته علم نه و، چې مونږ په جرمني کې هر څه منصوبه کړي او سوچ مو پرې کړی و. کله ناکله بـ مو د دوی په مخ کې او کله ناکله به دوی په چمن کې و. ما او شېرافضل به د یو بل سره شور جوړ کړ، بهر به دوی خوشال شول، چې د دوی نسخه کار کوي او په چمن کې به یې شپېلۍ وهلې چکر به یې پیل کړ، چې دا د خادیانو د چالاکو او د معلوماتو راغونډولو دوره تېره شوه، بیا زما او شېر افضل دور شو مونږ ورته ویل، چې په اروپا کې داسې او داسې دي؛ نو د ځوانو خادیانو سره چې ټول پښتانه وو دا ځکه، چې مونږ

په پارسي ژبه کې مشکلات درلودل زمونږ د سره ورو ورو اعتبار جوړ شو. مومند صاحب دوی په ورځ ورځ زمونږ نه د اروپا پوښتنې پیل کړې، په اخر کې یې ښه اعتبار وشو؛ نو دغو خادیانو د کمونیزم نه نیولې تر لېنن او ببرک پورې ټول وښکنځل او مونږ نه یې ویل، چې د تېښتې لاره ورته وښایو مونږ هغه ټولې لارې او د سیاسي پناه د اروپایي قانون طریقې ورته ولیکلې، چې مونږ ته معلومې وې وروسته خبر شو، چې مومند صاحب لندن ته رسېدلی و، او نن سبا غټ سوداګر ځنې جوړ شوی دی او د ببرک د ترور زوی ډاکټر ضمیر هم په لندن کې د (چمبړې) چرم لوی سوداګر شوی دی. دوی زمونږ نه کمونستان جوړول؛ خو مونږ د دوی نه پراریان جوړ کړل.

د څو ورځو نه وروسته د ګوند بل مشر او د سرحداتو وزیر سلېمان لایق صاحب راغی ده هم ډېرې خبرې وکړې ویل یې، چې مونږ له تاسو سره سیاست نه کوو سپینې سپینې خبرې کوو مونږ ټولو تېروتنې کړې دي مونږ تجربه نه درلودله. زمونږ خیال و، چې انقلاب کول مشکل دي؛ مګر اوس درک ولګېده، چې انقلاب کول مشکل نه دي؛ بلکې ساتل یې مشکل دي. مونږ په اول سر کې ځینې داسې کارونه وکړل، چې تاسو ته ښه معلوم دي د هغوی په وجه مو د افغانانو اعتبار وبایللو. خلق او حکومت سره جدا شول، نه یوازې جدا؛ بلکې دښمنان شول بیا یې د کمونستانو د عادت مطابق ټول ګنډ په ببرک وروا چاوه.

چې ببرک بې کفایته وخوت ټوله ورځ به په ارګ کې آیینې ته ولاړ و سینګار به یې کاوه. د یوه میټنګ لپاره به یې لس دولس نېکټایانې ترلې کله یوه خوا او کله بله خوا. همدغه وجه وه، چې ګوند پریکړه وکړه، چې اوس وخت دی، چې مشرتوب بدل شي. دا د مرګ ژوبلې دور باید ختم شي د مرورو افغانانو سره د ملي روغې جوړې د لارې ډایلوګ (خبرې) پیل شي. ځوک، چې لایق صاحب پېژني هغوی ته پته ده زښتې ډېرې ټوکې یې په تره کې، امین، ببرک او ځان پسې وکړلې د ثور د انقلاب زړه او نوې دوره او فرمانونه ټول یې مسخره کړل. ویل یې، چې زموږ خیال و، چې هورا به هر څه سم کړي موږ یې ښه ډېر وخندولو. زموږ شاعران؛ خو ډېر مکرجن دي؛ مګر لایق صاحب؛ خو بیا له ټولو نه په دې هنر ښه پوهېږي.

دوی ټول دا خبرې کوي، چې بیمار یم، وجود مې ښه نه دی، خپته مې خرابه ده، سم خوراک نه شم کولی؛ مګر وخت، چې راشي بیا خبره اولټه وي دا عادتونه د میر مهدي شاه، ولي محمد طوفان او اجمل صاحب هم وو، چې دوی به هر وخت د رنځورۍ څخه شکایت کاوه؛ مګر د خندا ځای به، چې راغی؛ نو دوی به له ټولو نه کلک کلک خندل.

د سلېمان لایق صاحب د لیدنې نه وروسته دویم دور د ډاکټر زېري صاحب و، چې دا هم د تره کي صاحب د وخت انتیک او اصولي خلقي پاتې شوی و. ډاکټر زېري

صاحب ډېرې په پرهېز خبرې کولې د لایق صاحب غوندې آزاد نه و، او په اوداسه کې ګرځېده. ده هم دا ومنله، چې د زراعتي اصلاحاتو طریقه غلطه او ډېره په بیړه وه، چې د خیر په ځای شر ځنې جوړ شو. د ملي روغې جوړې نغاره ده هم وغږوله. اخرنی کتنه له ډاکټر صاحب سره وه، له ډاکټر صاحب سره کتنه د دفاع وزارت په بلډینګ کې وشوه، چې دا ارګ ته نږدې نوی او ښایسته تعمیر دی زما په خیال، چې د ظاهرشاه په اخري وختونو کې جوړ شوی و. ډاکټرصاحب په ارګ کې نه اوسېده یوازې دفتر یې په دې تعمیر کې و. زه او ډاکټر شهرافضل ګردیوال د ډاکټر ضمیر په بدرګه د ډاکټرصاحب کتنې ته لاړو، څه وخت، چې موټر د تعمیر مخې ته ودرېدو موږ راکوز شو، چې په پاوړو ختلو لپاسه نور احمد نور او نیاز مومند هم راباندې راغلل؛ خو تیاره غوندې وه زه دواړو پېژندم؛ مګر دلته دوی ونه پېژندلم یو خو تیاره غوندې وه او بل زموږ موجودیت په کابل کې دومره پټ ساتلی شوی و، چې دوی له سره خبر نه وو، چې موږ راغلي یو. د ډاکټر ضمیر سره د لږ وخت لپاره په پاوړو کې ودرېدل موږ لږ پورته لاړو ډاکټر ضمیر هم یوازې دومره ورته وویل، چې څوک خارجي مېلمانه دي. د ډاکټر صاحب سره ګوري. او بل دوی ته د ډاکټر ضمیر وظیفه معلومه وه، چې یوازې د خارجي خلکو سره یې کار و. اوس رانه هېر دي، چې د ډاکټرصاحب دفتر په کوم چت کې و؛ خو

دومره راته یاد دي، چې پاس وختلو په برنډه کې کینې اړخ ته د ارګ لوري ته د تعمیر په څنډه کې یې دفتر و. موږ، چې په برنډه کې روان وو هیڅوک نه ښکاربدل، چې د توخي صاحب دفتر ته برابر شو، چې دا د ډاکټر صاحب یاور و؛ نو ما ناڅاپه شاته وکتل وروسته د هرې کوټې نه روسانو راپسې سرونه ښکاره کړي وو. په اول سر کې دوی دروازې پورې کړې وې، کېدای شي، چې دوی ته به هدایت شوی و، چې زموږ په مخ کې دې خپل موجودیت نه ښیي، چې ما مخ وراړاوه دوی وارخطا شول، او بېرته ژر ژر ورک شول.

مګر یو روسی ښکاره ناست و هغه د توخي صاحب د دفتر سره په وړه غونډې کوټه کې په تلویزیون باندې د فټ بال مېچ کتلو موږ ته یې په انګریزۍ کې ستړې مشي راکړه ما ورته ځواب په پښتو او جرمني کې ورکړ. ده وخندل زما خیال دی، چې ده ته جرمني ورتله ما په جرمني کې ورته وویل، چې څرنګه یې، افغانستان دې خوښ دی، ده یوازې خندل ځواب یې نه راکاوه وروسته ما د ښاغلي محب الرحمان کتاب (د افغان مېرانه او غمیزه) ولید، چې یوه روسي جنرال لیاخوفسکي لیکلي او ده ترجمه کړیدی. د جنرال عکس یې هم پکې چاپ کړی دی همدا سړی د نجیب الله د دفتر مخې ته ناست و دا ځکه، چې یوزاینی روسی و، چې ما په دفتر کې ولید؛ نو ځکه دده شکل راته یاد دی؛ خو زموږ په مخ کې یې

داسې حرکتونه کول، چې ګڼې ډډه کار یوازې د ډاکټر صاحب حفاظت دی.

د څه وخت نه وروسته توخی صاحب مخکې او مور ورپسې د ډاکټر صاحب لوی دفتر ته ورننوتو. ډاکټر صاحب په غبرګ سترې راسره وکړله د روغبړ نه وروسته هغه لوی میز ته لاړو، چې په کابل ټایم کې به هره ورځ ملاقات کوونکي ترینه راغوندۍ وو. مخامخ به ډاکټر صاحب و، د هر چا مخې ته به دغه د مرکزي کمیټې دا غټې غټې د چای پیالې پرتې وې چاپ کېدو. زمور لپاره دا میز نااشنا نه و، چې په کابل کې و هره ورځ به په کابل ټایم کې چاپ شوی و. ډاکټر ضمیر د خبرو پروټوکول لیکلو ډاکټر صاحب هم تقریباً بې له ټوکو نه هغه داستان تېر کړ کوم، چې مور په وار وار له غټو او وړو ګوندیانو څخه اوربدلی و او د لایق صاحب نه مو تازه تازه اوربدلی و؛ بلکې ضمیر؛ خو دا جرات هم وکړ، زمور د غولولو لپاره، چې د پښتون ضد تاجک اوس په ګوند کې هغه واک نه لري. مور ورته وویل، چې مور د پښتون او تاجک په پیمانه افغانان نه ناپ کوو زمور پیمانه دا ده، چې څوک د افغانستان ربړه ختمولی شي، روسي پوځونه بېرته لېږلی شي او په هېواد کې وینه بندولی شي. له هغه سره مور هرقسم مرستې ته تیار یو، چې هغه هر څوک وي مور په دې پسې نه ګرځو.

په دې باندې دواړه ډېر خوشاله شول زمور خلاف دا

پروپېګنډه شوې وه، او کېدله، چې پښتون که شیطان وي او تاجک فرښته؛ نو زمونږ تر فرښتې شیطان خوښ دی. بیا ډاکټر صاحب په خبرو کې آزاد شو ویل یې، چې ببرک صاحب نور د حکومت کولو توان نه درلوده، وجود یې کمزوری شوی و، داوطلبانه یې خپله استعفی ګونډ ته وړاندې کړله، او ګوند ومنله. همدغسې زما نوم وړاندې شو که څه هم زما غوښتنه نه وه. بیا مې د ګوند له پریکړې نه سر نه شوای غړولی. ما په زړه کې وویل، چې د ببرک حجامت دې وکړو. بیا ډاکټر صاحب د قرآن مجید په آیتونو او کلیمو باندې پیل وکړ. ویل یې، چې زمونږ دښمني د مذهب سره نه ده، مونږ د نوي مذهب دعوی نه ده کړې، زمونږ دښمني د هېواد د بې سوادۍ او غریبۍ خلاف ده غوښتل مو، چې هېواد آباد کړو، چې څومره ژر کېږي، چې آباد یې کړو. د نړۍ د نورو قومونو سره مونږ هم سیال شو؛ خو تجربې راته وښودله، چې د ټولنې بدلون او د هېواد آبادي دومره اسان کار نه دی اوس د خیر په ځای بې خیري ځنې جوړه شوه.

د عادت مطابق یې دا ټولې تېروتنې په تېرو شویو مشرانو باندې ورواچولې ده خپله پالیسي مونږ ته داسې څرګنده کړه:

مونږ د کور په ځای افغانانو ته ګور ورکړ، د جامې پر ځای مو کفن ورکړ او د ډوډۍ پر ځای مو ګولۍ ورکړه. زه غواړم، چې دا حالت د ملي روغې جوړې په ذریعه بدل

کړم روسي پوځونه د افغانستان نه وباسم بیا د افغانانو خوښه، چې څنګه حکومت او کوم نظام جوړوي.

په دې منځ کې تلیفون راغی ډاکټر صاحب تلیفون ته پورته شو خبرې یې په پښتو کولې موږ پوه شو، چې څوک پښتون ښکاري ډاکټرصاحب په زور زور ورته وویل، چې هو، هو مبلمه دلته دی ډاکټر صاحب، چې راغی بې له دې نه، چې موږ پوښتنه تري وکړو په خپله یې وویل، چې اکبرخان صاحب (افراسیاب ختک) و. د دې نه داسې معلومېدله، چې اکبرخان موږ ته ځان ښیي، چې که تاسو د ډاکټرصاحب سره ناست یئ دا خیال مو، چې ونه شي، چې ګڼې یوازې موږ یو؛ بلکې زما دومره پیاوړې رابطه ورسره ده، چې ډاکټر صاحب د ملاقات نه راپورته شو او زما تلیفون یې واخیستو، او ډاکټرصاحب ته هیڅ ضرورت نه و، چې موږ ته ووایي، چې څوک و دا ځکه، چې دی؛ خو د افغانستان جمهور رئیس و، ده ته تلیفون کول؛ خو د حکومتي ادارو ذمه واري وه؛ مګر ده قصداً موږ ته په ګوته کول، چې اوس د اجمل صاحب دور تېر دی اوس د اکبرخان دور دی.

د اجمل صاحب دا مرض و، چې ده به دوه سره جنګول د خلقیانو او پرچمیانو له اختلافاتو څخه به یې د خپل مرض علاج کولو ګلاب زوی د کورنیو چارو وزیر خلقي و او ډاکټرصاحب مشهور پرچمي و. یو ځل ماته په خپله اجمل صاحب وویل، چې ډاکټر صاحب ماته ګیله وکړه،

چې زه؛ خو دې ټولو سفیرانو، ګوندیانو او روسانو ته وشرمولم. خبره داسې شوې وه، چې څه وخت مېلمستیا خلاصه شوې وه؛ نو ختېك صاحب ګلاب زوی ته ویلي وو، چې زه له تا سره ځم د اجمل صاحب ورځ د ګلاب زوی لپاره افتخار و؛ نو جمهوري رئیس نجیب ته دا پته نه وه؛ نو طریقه داسې ده، چې د هېواد مشر، چې لاړ شي بیا دا نور مېلمانه ځي؛ مګر ختېك صاحب یا خو خبر نه و او یا یې قصداً دا کار کړی و. ډاکټرصاحب ورته ډېر انتظار کړی و دده خیال و، چې ختېك صاحب له مېلمنو سره په ګډه ګونډه کې دی. سفیران، جنرالان او وزیران ټول له ډاکټر صاحب نه راتاو دي او د ختېك صاحب انتظار کوي، د ډاکټر نجیب د قدر ورکولو خیال و، چې له ځان سره یې واخلي، چې خبر شوی و، چې ختېك صاحب دده د خلقي Rival (رقیب) ګلاب زوی سره ډېر د وړاندې نه تللی دی، دده انتظار بې ځایه و؛ نو ښکاره خبره ده، چې ډاکټرصاحب دغو نورو ته شرمنده شوی و او ختېك صاحب ته یې احتجاج کړی و؛ لکه څرنګه، چې ده په جېل کې مېرې سره جنګول هم هغه کار ده د خپلو شاګردانو او ملګریو سره ؛ وه مونږ خو ورسره عادت وو، چې څو ژوندی وي دا مرض به په کې وي، بل علاج یې نشته. دا ځکه، چې کم نه کم دی یې د انقلابي بالنبت نه ژغورلی دی. دا ځکه، چې یو خو NAP Mature بالغه سیاسي ګوند و. دوی د ختېك صاحب په دې ډول حرکتونو باندې

سترګې پټولې او که خټک صاحب د بړې خوا پرچمي او یا خلقي وي؛ نو دده په خوله به د تره کي نه هم مخکې د خلکو زامنو انقلابي بالنبت اینبی و.

د ډاکټر صاحب سره، چې څه وخت رسمي خبرې خلاصې شوې ډاکټر ضمیر د توخي کوټې ته لاړ؛ نو بیا ډاکټر صاحب ماته وویل، چې ببرک موږ ټول افغانان وشرمولو افغانانو تل عمر د خپل هېواد او ځان ساتنه په خپل سر کړې ده ببرک ځان په روسانو ساتي او ورسره موږ دعوی هم کوو، چې ۹۰% اولس زموږ سره دی؛ نو ځکه ما پریکړه کړېده، چې په شورویانو باندې نوره څوکیداري نه کوم که په موږ کې زور وي؛ خو ځان به وساتو ګڼې ډېر افغانان په دنیا تېر دي، چې موږ لاړ شو هم آخرت نه راځي شورویان به تر څو موږ ساتي.

په دې شپو ورځو کې ببرک د هېواد رئیس و؛ خو اختیارات ورسره نه وو؛ مګر دده خپلوان او ملاتړي تېر نجیب راتاو وو. د ډاکټر صاحب لاس آزاد نه و وروسته یې ببرک یو قسم د بیماری تر نوم لاندې شوروي اتحاد ته جلاوطن کړ. موږ په کابل کې وګرځېدو؛ مګر دا ټول په موټر کې وو مومند صاحب او داود شهباز به راسره وو، د جنګ میوزیم ته لاړو دوی، چې کومې وسلې له مجاهدینو څخه نیولې وې هغه هلته د نمایش لپاره پرتې وې، چې دوی ورسره لیکلي وو، چې مصری، امریکنی، چینایی، پاکستانی او انګلیسی ما، چې نظر پرې

واچاوه ماډل؛ خو یې ددې هېواد نه وو؛ مګر جوړې راته ټولې په دره آدم خېل کې ښکارېدلې.

د شېرافضل کورنۍ مور د دوی په ذریعه خبره کړې وه د اتلسو کلونو نه وروسته ګردیوال صاحب خپل ورور پروفیسر شېراحمد صاحب په کابل پوهنتون کې د مېرمنې او بچیو سره ولیده. یو بل د ترهٔ زوی یې زرین انځور صاحب، چې د عمر نه ډېر ځوان؛ مګر نامتو لیکوال او نقاد ځنې جوړ شوی و هم دده ملاقات ته ډېر راتلو او له ټولو نه د شېر افضل کشره خور، چې اوس پېغله شوې وه او شېرافضل ډېره کمکۍ لیدلې وه د شېرافضل والدصاحب پخوا وفات شوی و ګرانه مور یې هم وفات شوې وه. څه وخت، چې ډاکټر شېر افضل په جرمنۍ کې و. خور یې ډېره هوښیاره وه د ملاقات په دوران کې د ماسپښین آذان وشو؛ نو دې فوراً خپل څادر په قالینه وغوړولو او په لمانځه ودرېدله. ما شېرافضل ته وویل، چې د خور په کار پوه شوې ویل یې، چې نه ما ورته وویل، چې پښتنې مېرمنې دومره هوښیارې دي که چېرې دوی تعلیم وکړي؛ نو مور بحیثیت قوم په هغه ورځ روان یو خور مور ته وښودل، چې تاسو داسې فکر ونه کړئ، چې ګنې روسان راغلي دي مور دین پرېښې دی مور اوس هم په ډګر خپل دین پالو دده پوځي ماما، چې رپنشني شوی و هم د ملاقات لپاره د خپل زوی سره ګډ راغی. دا ډېر سخت وختونه وو په معمولي شک باندې

پوره پوره کورنۍ ورکېدلې او له ټولو نه د خفګان ورځ هغه وه، چې د نادرخان د مقبرې تپې ته زما په اسرار لاړو که څه هم حکومت کوشش کاوه، چې مور لاړ نه شو دا ځکه، چې ما ډېر لوستي او په تلویزیون کې مې ددې تپې قبرونه لیدلي وو. په اخبار کې لوستل او فلم لیدل بل شی دی، چې په خپلو سترګو یې وګورې هغه بېل شی دی. ټوله تپه د افغانانو د تازه تازه قبرونو څخه ډکه وه، چې د ځینو عکسونه او د پیدایښت او شهادت تاریخونه هم پرې لیکلی شوی وو. د ماتم ځای و، چې څومره نور شهیدان به په پېښور، کوټه، میرانشا، کورمه او کوهاټ کې خاورو ته سپارل شوي وو د هغوی؛ خو څه اندازه نه وه. قندهار، هرات، جلال آباد، خوست او ګردېز؛ خو مو ونه لیدل، چې هلته به څه حال و، چې کوم ځنې د لېوانو او ګیدړانو خوراک شوي وي د هغوی اندازه نشته؛ نو ما خیال وکړ، چې په داسې انقلاب، اقتدار، چوکۍ او دولت باندې دې اور ولګېږي، چې دومره تنکي ځوانان د اور په بټۍ کې سوځي. کېدای شي، چې په ډاکټر نجیب کې هم تبدیلي ددې تباهۍ په وجه راغلې وي.

څه وخت، چې مور د کابل پوهنتون ته لاړو دلته جینکیو ځینې داسې بې خونده حرکتونه کول، چې په اروپا کې هم د دومره آزادۍ سره سره جینکۍ ډېرې مؤدبې وي ما خو مخکې هم په کابل کې وخت تېر کړی و او پوهنتون ته هم ډېر تللی وم او ښایسته ښایسته او

مغروري افغاني پېغلې مې هم لیدلې وې؛ نو زه ډېر خفه شوم، چې ددې بې ضرورته آزادۍ څه ضرورت دی دا همېشه د احساس کمزورۍ په وجه کېږي. دلته اکثریت د لنډې پوزې والا جینکۍ وې داسې ښکارېدل، چې په چین، جاپان او مغلستان کې یم. ما شېرافضل ته وویل، چې دا څه حال دی د نژاکت د خطره ګردیوال په جرمني کې راته وویل، چې دا د کمونیزم د کلتور برکت دی. او داجینکۍ یې د سرد اُبوځک Schaum دی د دوی ددې حرکتونو مقصد دا وو، چې ګنې موږ څومره ترقي کړې ده د ښځې او سړي حقوق برابر شوي دي دا د اروپا د کلتور چیخن او جاهل نقل و. دلته زموږ د صوفي جمعه خان او اکبرخان یعنې افراسیاب ختک سره هم بیابیا لیدنې کتنې وشوې.

اجمل صاحب راته د غرمې ډوډۍ هم کړې وه زه او ډاکټر شېرافضل سره د مومند صاحب مېلمانه شولو ختک صاحب ډېر خوشال و اوس ده هم خبرې ښکاره کولې یوه خبره یې دلته لیکم ویل یې، چې په یوه دعوت کې یوه روسي جنرال یوې ډډې ته کړم، چې دی د پکتیا نه تازه تازه راغلی و د نورو خبرو نه پرته یې دا خبره راته وکړه، چې که چېرې د پکتیا په څېر خلک زموږ سره وای؛ نو موږ به په دویم نړیوال جنګ کې نازي جرمني یعنې هټلر په څلور؛ نه بلکې په دوه کاله کې وهلی و، ویل یې، چې تر هغو ډز نه کوي تر څو، چې یې یو عسکر مړ کړی نه وي موږ حق حیران وو یوه یوه سړي به دیارلس

څوارلس عسکر مړه کړي وو، هله به دی مړ او یا زخمي او یا به تښتېدلی و. ختېك صاحب ویل، چې ماته یې وویل، چې زمونږ عذر پدې کې دی، چې څومره زر وشي، چې خپلې پښې له افغانستان نه سپکې کړو. ویل یې، چې له ټولو نه لوی مرض دا دی، چې د افغانستان د هر ولایت او قبیلې د جنګ طریقې جدا جدا دي، چې کوم پوځیان په قندهار کې د مجاهدینو خلاف وجنګېږي او بیا د دوی چل ول زده کړي بیا، چې دا عسکر پکتیا او یا ننګرهار ته لاړشي؛ نو د دوی د قندهار تجربه بې کاره وخېژي دا ځکه، چې پکتیاوال د قندهاریانو نه بل چل ول کوي؛ نو مونږ حق حیران یو که چېرې مونږ د هر ولایت او قبیلې لپاره بېل بېل پوځ ترینډ کوو؛ نو دا روغ دري میلیونو ته رسېږي ددې خرڅ خوراك هم د ټوکو خبره نه ده او دا هم د کامیابۍ ضمانت نه دی؛ نو ددې ټولو یو علاج دی هغه دا، چې زر تر زره افغانستان پرېږدو. دا خبره ماته یوه جرمني مېجر کوله، چې زه د مجاهدینو سره ګډ د لوګر ولایت ته تللی وم مجاهدینو به په هغو کانوایو (کتارونو) باندې حملې کولې، چې د کابل نه به ګردېز او خوست ته تلل. ویل یې، چې د محمدآغې سره مجاهدینو کمین نیولی و دا حملې به په چټکۍ سره کېدلې، چې هلي کوپټر به را رسېدل بیا به مجاهدین خوندي ځایونو ته رسېدلي وو.

ویل یې څه وخت، چې د روسي پوځیانو قافله راغله؛

نو مجاهدینو یو ناڅاپه ډزې پرې پیل کړې او روسانو هم ځوابي ډزې پیل کړې زموږ او دوی په منځ کې په پټې کې خر څرېده خر په Cross Firing یعنې د ډزو په تبادله کې راغی د اولو ډزو سره خر نسکور شو ما په دوربین کې ورته کتل د مجاهدینو کمانډر ته مې وویل، چې هغه دی یو خو شهید شو، چې زموږ و که د روسانو له لاسه لاړو مېجر وویل څه وخت، چې مجاهدینو خپلې ډزې بندې کړلې د هلي کوپټرو نه خوندي کېدل؛ نو روسانو هم ډزې بندې کړلې ویل یې، چې زما د حیرانۍ حد نه و د ډزو د بند بدلو سره خر پورته شو غوږونه یې وډبول او بیا یې څرېدل پیل کړل ویل یې، چې ما او کمانډر دواړو په زوره زوره وخندل، چې شهید؛ خو بیا را ژوندی شو. ما هلته او بیا وروسته خپلو پوځي ماهرینو ملګرو ته وویل، چې د افغانستان سړي او ښځې؛ خو انسانان دي خره یې هم دومره چالاکه شوي دي، چې ګوریلایي چلونه یې زده کړي دي؛ نو روسان به په افغانستان کې شرمېږي، او داسې به شرمېږي، چې دنیا به ورپورې خاندي. مېجر وویل، چې خر په ټولو ځناورو کې بېوقوفه مشهور دی؛ مګر حالاتو دې ځای ته رسولی و، چې خیال یې کړی و، چې بابا اوس څمله په Cross Firing کې راغلی یې هسې هم نیمه ګېنټه ده مجاهدین به هلي کاپټرو نه بیا خوندي کېږي مېجر به، چې دا خبره کوله ډېر زیات به یې خندل ویل یې، چې افسوس، چې زما سره فلمي کېمره نه وه، چې ما

دا خر فلم کړی وای او دنیا ته مې ښودلي وای په ټوکه کې یې وویل، چې خره زما اړخ ته کتل راته یې وویل، چې مېجر صاحب څه پوه شوې د خطرې په وخت کې همدغسې کول په کار دي.

جرمنیانو د افغاني مجاهدینو او کډوالو سره مینه وه او بې اندازې مرستې یې ورسره کړې دي. یوه وجه یې د دوی خپله کورنۍ وه، چې مشرقي جرمني له افغان حکومت سره مرسته کوله او مغربي جرمني له مجاهدینو سره بله وجه یې له روسانو نه د بدل اخیستل وو، چې په دویم نړیوال جنګ کې دوی ځنې وهل خوړلي وو. او په ټهره بیا هغه ښځې، چې ۶۰ کلنې او ۸۰ کلنې وې، د مجاهدینو لپاره به یې چندې ټولولې. وروسته ما ددې وجه معلومه کړه دغه ښځې د دویم نړیوال جنګ په دوران کې ځینې پېغلې او ځینې ځوانې ښځې وې د ماتې نه وروسته روسي عسکرو له دوی سره په زوره زنا ګانې کړې وې او د دوی ناموس یې اخیستی و. او د ځینو له افغانانو سره هسې مینه وه. ډېرو ښځو ته د اعلیحضرت غازي امان الله خان او ملکه ثُریا د جرمني دوره وریاده او لېدلې وه. دا ځکه، چې ډېر بادشاه پرست دي. په لومړي نړیوال جنګ کې دوی بادشاهي او بادشاه بایللی و، او غازي امان الله خان لومړنی اسیایي بادشاه و، چې د جرمني دوره یې کړې وه.

موږ ببرته جرمني ته راغلو. د ډاکټر صاحب سره له

خبرو څخه مو ملګري خبر کړل. او د تماس د ساتلو وعده ورسره شوې وه. بله ډله د ډاکټر کبیرجان ستوري او هدایت بنګش د خان لالا محمد افضل خان آف سوات په مشري د ۱۹۸۷م کال د اپریل په میاشت کې افغانستان ته په بنکاره لاړل. دوی هم د ډاکټر صاحب او نورو حکومتي او ګوندي مشرانو سره د ملي روغې جوړې او په خاصه توګه د پښتو ژبې په باره کې خبرې کړې وې. هدایت بنګش؛ خو په بنکاره نجیب ته ویلي وو، چې تاسو څنګه پښتانه یئ، چې یوه بیانیه مو هم په پښتو ژبه ورنکړه او بل دوی د رحمان بابا لېسې ته تللي وو، چې ډاکټر کبیرجان ستوري دلته لېسه خلاصه کړې او بیا د لوړ تعلیم لپاره په ۱۹۶۴م کال جرمني ته راغلی و. دوی ته د رحمان بابا د لېسې هلکانو شکایت کړی و، چې دا افغانستان دی او که تاجکستان دوی پښتو ژبه ورکه کړه هر څه یې په پارسي کړي دي وروسته دواړو د ډاکټر صاحب او په خاصه توګه له سلیمان لایق سره په دې ګرم ګرم بحثونه کړي وو، چې دا کار؛ خو د پښتون خلاف دی، او د پښتو د فلمونو د بندېدلو په هکله هم دوی ورسره غږېدلي وو، چې د ټولو ژبو فلمونه آزاد دي؛ مګر د پښتو نه. دا ولې سلیمان لایق صاحب ورته هغه دغه کړي وو.

دلته د خان لالا محمد افضل خان نه پرته د کوزې پښتونخوا نه ارباب همایون هم راغلی و. د اختر محمد

کاکا او ارباب صاحب اړیکې ډېرې سره نژدې وې. په پېښور کې به دوی د یو بل نه پرده نه کوله تګ راتګ به یې له څه تکلیفه پرته کېده. هسې هم اربابان د خیبر په خوله کې پراته دي چېرته، چې کابل یا ډیلي کې څه خیرات کېږي؛ نو اول بوی یې په دوی باندې لګېږي د هدایت او کبیر ستوري سره فلاسفر شاعر غني خان غني هم و. د څه مشاعرې او که سیمینار لپاره رابللی شوی وو.

هدایت ویل، چې یوه ورځ د غرمې ډوډۍ ناوخته شوه غني خان ګګر سر د کوټې نه راوووت ویل یې، چې جوړې ډاکټر صاحب نن زموږ نه د کیوین ویکټوریا آسپي جوړوي. هدایت وویل، چې ما ځني پوښتنه وکړه، چې هغه څنګه. غني ورته ویلي وو، چې کله به د ملکې ویکټوریا د تلین ورځ وه په هغه ورځ به پریږدې کېدو؛ نو آسپو ته به په هغه ورځ خوراك نه ورکول کېده، چې دوی په میدان کې د پریږدې او سلامی. په وخت کې ګندګي ونه کړي.

PSPD

نوټ: ډاکټر کبیر جان ستوری د ګوند چېرمین.

زه علي خان محسود سینېر نایب چېرمین.

ډاکټر شېر افضل ګردیوال د بهرنیو چارو سکرټر.

هدایت الله بنګښ د ګوند جنرل سکرټري دی.

